# جریده میزان

قوهٔ قضائیه

د ستري محکمې کاري څرګندويه خپرونه

د تأسيس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

دوشنبه ۱ لړم ۱۴۰۲ هـ ش | ۸ ربيع الثانی ۱۴۴۵ هـ ق | ۲۳ اکتوبر ۲۰۲۳ م | مسلسله شمېره (۴۶)


**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ايښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وي ، نو د نړۍ ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام ، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کيده.
تفسير کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

## د ستري محکمې د عالي مقام په حکم او جنوب غرب زون د تميز لوی رياست په هدايت به د هرات له زندان څخه څه باندې (۴۷۳) بنديان آزاد شي

د ستري محکمې د عالي مقام او جنوب غرب زون د تميز لوی رياست په هدايت به د انساني ترحم او شفقت له وجې د هرات ولايت له عمومي زندان څخه څه د پاسه (۴۷۳) هغه زندانيان ازاد شي چې په حقوق الله کې بنديان وو، يا يې د حبس کمه موده پاته ده.

د ستري محکمې د جنوب غرب زون د تميز عالي مقام د هرات د مرافعه محکمې د رياست په وړانديز د جنوب د غرب زون د تفتيش يوه درې کسيزه پلاوي ته دنده وسپارله چې د ياد ولايت له زندان څخه ليدنه وکړي، د زندان او زندانيانو وضعيت له نږدې بررسي او په اړه يې بشپړ معلومات شريک کړي.

د ياد درې کسيزه پلاوي د دوه ورځنۍ بررسۍ په نتيجه کې معلومه شوه چې د هرات زندان ودانۍ ته د زلزلې له امله زيان رسېدلی دی او د نړېدو خطر لري.

دغه راز ياد پلاوي د هرات په زندان کې د هغه (۴۷۳) بنديانو نوملړ ترتيب او د جنوب غرب زون د تميز له عالي مقام سره شريک کړ چې په حقوق الله کې بنديان وو، يا يې د حبس کمه موده پاته وه.

د جنوب غرب زون د تميز عالي مقام، د زندانيانو د ياد نوملړ تر کتنې وروسته د يوه مکتوب له لارې د هرات مرافعه محکمې ته هدايت کړی چې د يادو زندانيانو د خوشې کېدو درته اجازه ده او هر څومره ژر چې امکان لري دغه بنديان خوشې کړئ؛ ترڅو په محبس کې د بنديانو حجم کم او د زلزلې په صورت کې د پاتې بنديانو تر خپلې وسې حفاظت وشي.

پر دې سربېره د جنوب غرب زون د تميز عالي مقام اړوند مسؤولينو ته هدايت کړی چې د ښځو او کوچنيانو په محبسونو کې چې اوس مهال يې هيئتي روانه ده او تر اوسه يې لېستونه نه دي را رسېدلي د خپل لزوم ديد مطابق بنديان ازاد کړي.

## د روزګان د مرافعه محکمې رئيس د ياد ولايت چنارتو ولسوالۍ ابتدائيه محکمې او زندان څخه ليدنه وکړه

د روزګان د مرافعه محکمې رئيس الحاج شيخ مولوي سخيداد (ابوالتقي) د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د ربيع الاول مياشتې په ۹ مه نېټه د دغه ولايت د چنارتو ولسوالۍ د ابتدائيه محکمې، اداري مسؤولينو، عامو هېوادوالو او د يادې ولسوالۍ له زندان څخه ليدنه وکړه.

په ياده ليدنه کې د روزګان ولايت د مرافعه محکمې رئيس د چنارتو ولسوالۍ د ابتدائيه محکمې قاضي، مفتي او محرر ته د قضائي چارو د ښه ترسره کولو په موخه لازم هدايات وکړل او ورته يې وويل: که موضوع ابتدائيه محکمې ته راشي بايد په يوه نيمه مياشت کې فيصله شي، په محبس کې له دوسيې پرته بايد بنديان موجود نه وي، بې سرنوشته بندي بايد له محبس ازاد شي، کوم وخت چې تعزير لری نو مرافعه محکمه په جريان کې اچوئ، مرافعه محکمه به ستري محکمې ته اطلاع ورکوي او وروسته به تعزير ورکول کېږي .

نوموړي زياته کړه د خپلو ترسره کړو فعاليتونو ربعوار راپورونه، د ستري محکمې د دارالانشاء عمومي رياست متحد المآلونو، د مرافعه محکمې مکتوبونو او احکامو ته ځانګړې پاملرنه وکړئ.

وروسته شيخ مولوي سخيداد (ابوالتقي) د ولسوالۍ له محبس او ټولو بنديانو څخه ليدنه وکړه، د هغوی ستونزې يې واورېدې او بنديانو ته يې ډاډ ورکړ چې ان شاءالله دوسيې به يې ډېر ژر څېړل کېږي او د محبس مسئولينو ته يې سپارښتنه وکړه چې د بنديانو سره ښه او نيک چلند وکړئ.

د مرافعه محکمې رئيس شيخ مولوي سخيداد(ابوالتقي) د ليدنې په پای کې د چنارتو ولسوالۍ له ولسوال، امنيه قوماندان، د ولسوالۍ له اوسېدونکو، علماوو او قومي مشرانو سره وکتل او هغوی ته يې د ستونزې د حل په برخه کې پوره ډاډ ورکړ چې ستونزو ته به رسېدنه کېږي.

ياده ليدنه د دعائيې په لوستلو سره پای ته ورسېده.

## د ستري محکمې د حقوقو عمومي رئيس کاپيسا او پروان ولايتونو ته سفر وکړ

د چهارشنبې په ورځ (۱٤٤٥/۳/۱۲هـ ق) نېټه د حقوقو عمومي رئيس محترم مفتي محمد ابراهيم جان (ابوالحفاظ) کاپيسا او پروان ولايتونو ته د سفر پر مهال د يادو ولايتونو د مرافعه محاکمو له رئيسانو او د حقوقو له آمرينو سره وکتل.

د حقوقو عمومي رئيس په دې ليدنو کې د يادو ولايتونو د حقوقو د اداري ځانګو اړوند خالي بستونو ته د وړ کسانو د جذب لپاره پر لازمو لارو چارو خبرې وکړې.

دغه راز محترم مفتي ابراهيم جان (ابوالحفاظ) د ياد سفر پر مهال له ځينو متقاضي اشخاصو څخه ازموينه هم واخيسته.

د ولايتي محاکمو او حقوقو امريت مسؤولينو د يادو ليدنو پر مهال د حقوقو له عمومي رئيس سره ژمنه وکړه چې خپلې چارې به د عمومي رياست په همکارۍ او همغږۍ په اصولي ډول ترسره کوي.

## نشست مسؤولان محاکم ولایت کندز تدویر یافت

به تاسی از هدایت مکتوب نمبر (٥٢٦/١٢٩٩) مؤرخ ١٤٤٣/١١/٩ هـ ق مدیریت محترم عمومی استهداآت، آمریت استهداآت و کادر قضات، ریاست عمومی تدقیق و مطالعات، مقام عالی ستره محکمهٔ امارت اسلامی افغانستان مؤرخ ١٤٤٥/٢/٢٩ هـ ق جلسهٔ رؤسای دیوان های استینافی تحت ریاست محترم مولوی نورمحمد (نوری) رئیس عمومی محکمهٔ مرافعه ولایت کندز به اشتراک همهٔ رؤسای محترم دواوین استینافی محکمهٔ استیناف، رئیس محترم محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و آمر محترم ثبت اسناد و وثایق محکمهٔ مرافعه، غرض رسیدگی استهداآت واصلهٔ محاکم مربوط محکمهٔ مرافعه و عرایض مراجعین تدویر یافت.

نخست جلسه با تلاوت آیات چندی از کلام الله مجید توسط یک تن از اشتراک کنندگان آغاز گردید؛ متعاقباً استهداآت و عرایض مراجعین به تناوب مورد غور مداقه اعضای نشست قرار گرفت.

در نتیجه حاضرین نشست نظریات و هدایات شان را در مطابقت به احکام شرعی و مصوبات ریاست محترم عمومی دارالانشاء مقام محترم عالی ستره محکمهٔ امارت اسلامی افغانستان هدایت فرمودند و به تحریرات گفته شد تا احکام و هدایات این نشست را به مراجع مربوطه غرض اجراآت لازم ارجاع نماید.

### د نجران تازه ګمارل شوي قاضي علاء بن حضرمي رضي الله عنه ته د رسول الله صلی الله عليه وسلم ليک اوومه برخه

له دې وروسته احسان ور وښاياست او دا ور زده کړئ چې احسان دا دی چې هغه امانت ښه ادا کول، کوم چې ستاسو او د الله تعالی ترمنځ دی، او هغه وعده ترسره کول کوم چې يې د پيغمبرانو سره کړې، همدارنګه د پيغمبرانو تړون چې د خلکو او عامو مؤمنانو سره يې کړی، همداسې د ژبې او لاس د هرې فريبکارۍ څخه د مسلمانانو ژغورنه او د نورو مسلمانانو لپاره هغه څه غوښتل کوم چې د ځان لپاره غواړي، د رب وعدې او ملاقات رښتينی ګڼل، د دنيا څخه په هره شېبه کې په مرګ باور درلودل، همداسې شان د هرې ورځې او شپې په تېرېدو د خپل نفس سره حساب کول، په شپه او ورځ کې زيار کښل او هغه څه چې الله تعالی يې د اداينې حکم کړی دی په پټه او ښکاره يې ادا کول، کله چې يې دا هم ترسره کړل، نو دوی نېک، مؤمن مسلمانان شول.

بيا دوی ته لوی ګناهونه بيان، مشخص او د لويو ګناهونو د هلاکت څخه يې ووېروئ، څکه لوی ګناهونه تباه کوونکې دي، چې تر ټولو لومړی لويه ګناه هغه د الله تعالی سره شريک نيول دي، څکه الله تعالی فرمايي:» الله تعالی هغه څوک نه بخښي چې له ده سره يې شريک نيولی وي». بله لويه ګناه سحر او جادو دی او جادوګر لره هيڅ برخه نشته، بله لويه ګناه صله رحمي پرې کول دي، چې ياد کسان خدای له رحمت څخه ليرې دي، بله لويه ګناه د جګړې ميدان څخه تېښته ده او الله تعالی د دوی په اړه فرمايي:» داکسان د الله تعالی په غضب اخته دي». او همدارنګه بله لويه ګناه خيانت کول دي، الله تعالی يې په اړه فرمايي:» د قيامت په ورځ به هغه شی چې خيانت يې پکښې کړی په غاړه کې به يې طوق سوی وي». او همدارنګه مؤمن کس ناحقه وژل لويه ګناه ده، چې ددې سزا دوږخ دی او بله لويه ګناه په پاک لمنو ښځو تهمت تړل دي، داکسان دنيا او آخرت کې د الله تعالی له رحمته ليرې دي او بله لويه ګناه د يتيم مال خوړل دي، چې الله تعالی يې په اړه فرمايي:» په حقيقت کې هغوی خپلې ګېډې له اوره ډکوي او هغوی به هرو مرو د دوږخ تاوجن اور ته ورننوځي». او همدارنګه بله لويه ګناه سود خوړل دي، چې الله تعالی يې په اړه فرمايي:» نو خبر اوسئ چې د الله او د هغه د پيغمبر له خوا ستاسې پر خلاف د جګړې اعلان دی».

کله چې يې ځانونه له لويو ګناهونو څخه وژغورل نو دوی نېک، پرهېزګار، مؤمن مسلمانان دي.

اخذليک: تتمة النظام، ۳۷ صفحه، تأليف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

# گزارش اجراآت و فعالیت های ریاست عمومی محکمه مرافعه ولایت بادغیس طی سال ۱۴۴۴ هـ ق در بخش قضائی و اداری

**در بخش حقوقی و تجارتی:**

در جریان سال ۱۴۴۴ هـ ق به تعداد (۲۸۶۱) دوسیه وارد محاکم گردیده است؛ در حالی که قبلاً (۲۴۱) دوسیه تحت دوران قرارداشت که مجموعاً ( ۳۱۰۲)دوسیه میشود. از آن جمله (۳۸۲) دوسیه مکتوبی، (۱۵۸۳) دوسیه قرار قضائی، (۱۰۵۸) دوسیه فیصله اجراآت گردیده و (۲۳۹) دوسیه انتقال شده به سال ۱۴۴۵هـ ق

**در بخش جزایی:**

در جریان سال ۱۴۴۴ هـ ق به تعداد (۸۴) دوسیه وارد محاکم گردیده‌است؛ در حالی که قبلاً ( ۱۴۴۵) دوسیه تحت دوران قرارداشت که مجموعاً ( ۱۵۲۹)دوسیه میشود. از آن جمله ( ۱۴۷) دوسیه مکتوبی، (۶۷۱) دوسیه قرار قضائی، (۶۳۰) دوسیه فیصله اجراآت گردیده و (۱۲۶) دوسیه انتقال شده به سال ۱۴۴۵ هـ ق

همچنان به تعداد (۲۶۸۴) قطعه وثایق مختلف النوع اجراء گردیده و طبق فرمان امارت اسلامی افغانستان قیمت اخذ نگردید.

**دربخش اداری:**

ریاست محکمه مرافعه با پیروی از مصوبات اوامر و هدایت مقامات صالحه اهداف اصلاحی استراتیژی قوهٔ قضائیه راعملاً در مورد آتی تطبیق نموده است.

مبارزه جدی علیه فساد اداری.

کنترول جدی حاضری یومیه منسوبین محکمه استیناف، آمریت ثبت اسناد وثایق ومخزن، محکمه ابتدائیه شهری، وذریعه تماس تلفونی از محاکم ولسوالی های مربوطه.

بستر سازی مناسب جهت ایجاد باورمندی و دادخواهی مردم در سطح ولایت بادغیس.

حفظ محیط زیست صحن محکمه.

تدویر جلسات اداری.

جلسات هماهنگی.

جلسات روسای دیوانهای استیناف بمنظور حل استهدآات.

تعداد(۳۶۴۵) مکاتب صادره وارده گردیده تعداد( ۶۳۶ ) قطعه عرایض مراجعین ثبت و تحت رسیدگی قرارگرفته است.

ارسال راپور اجراآت وثایق طوری سال تمام

ارسال راپور توحیدی(۲۵) روزه ضوابط حاضری.

ارسال راپور حقوق میراث زنان طور ربعوار.

ارسال راپور احصائیه طور ربعوار.

فعال نگاه داشتن محاکم ولسوالی ها در مراکز ولسوالی ها .

تعداد( ۲۸) گزارش از اجراات و فعالیت های ریاست محکمه استیناف به ریاست محترم ارتباط خارجه، عامه و مطبوعات مقام عالی ستره محکمه امارت اسلامی افغانستان ارسال شده که اکثرا در جریده میزان نشر شده.

ارسال راپور ثبت سیستم قضایای جزائی و حقوقی طور ماهوار.

سعی و تلاش حتی المقدور در صرفه جویی مصارفات و نگهداری حفظ و مراقبت وسایل و تجهیزات محاکم.

**در بخش هماهنگی:**

داشتن روابط نیک و احترام متقابل با مقام ولایت، قوماندانی امنیه، ریاست استخبارات و سائر نهاد های امارتی با در نظرداشت رعایت وطرزسلوک قوهٔ قضائیه.

در بخش نظارت.

بازدید شعبات محکمه مرافعه، آمریت ثبت اسناد وثایق و مخزن ، آمریت حقوق، محکمه ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی های قادس، مقر، جوند، آبکمری، بالامرغاب ،سنگ آتش، دره بوم، تگاب علم و غورماچ.

نظارت از مدیریت عمومی زندان ولایت و بررسی مشکلات زندانیان در حصه پیگری قضایای شان در محاکم.

دربخش ترمیمات.

ترمیم موتر محکمه مرافعه.

ترمیم رنگمالی دیوار احاطوی دفتر ریاست محکمه مرافعه وتعمیر رهایشی نمبر(۴).

# د کابل د مرافعه محکمې استینافي دیوانونو په دوو اونیو کې (۷۷) قضیې حل او فصل کړې دي

د کابل ولایت د مرافعه محکمې د جزائي، نظامي، حقوقي او تجارتي برخو دیوانونو په دوو اونیو کې (له ۱۴۴۵/۳/۱ هـ ق نیټې څخه تر ۱۴۴۵/۳/۱۵ هـ ق) پورې (۷۷) قضیې حل او فصل کړې چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**۱- د دې محکمې د جزا دیوان:**

د جزا دیوان ته د دوو اونیو په موده کې (۳۷) دوسیې واردې شوي، په داسې حال کې چې پخوا هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۳) قضیو په اړه پرېکړه شوې، د (۸) قضیو په تړاو د محکمې د حکم له مخې قرارونه صادر شوي، (۳) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې نورې تر څېړنې لاندې دي.

**۲- د دې محکمې د عامه امنیت دیوان:**

د عامه امنیت دیوان ته د دوو اونیو په موده کې (۱۱) دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې پخوا هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۲) قضیې فیصله شوې، د (۱۱) قضیو په تړاو د محکمې د حکم له مخې قرارونه صادر شوي، (۳) نورې دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې نورې تر څېړنې لاندې دي.

**۳-د دې محکمې د نظامي منسوبینو دیوان:**

د نظامي منسوبینو دیوان ته د دوو اونیو په موده کې (۹) دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې پخوا هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۱) قضیه فیصله شوې، د (۲) قضیو په تړاو د محکمې د حکم له مخې قرارونه صادر شوي، (۴) نورې دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې نورې تر څېړنې لاندې دي.

**٤- د دې محکمې مدني دیوان:**

مدني دیوان ته د دوو اونیو په موده کې (۱۶) دوسیې واردې شوي، په داسې حال کې چې پخوا هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۵) قضیو په تړاو د محکمې د حکم له مخې قرارونه صادر شوي، (۳) نورې دوسیې مکتوبي مستردې شوي او پاتې نورې تر څېړنې لاندې دي.

**۵- د دې محکمې تجارتي دیوان:**

تجارتي دیوان ته د دوو اونیو په موده کې (۷) دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې پخوا هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۹) قضیو په تړاو د محکمې د حکم له مخې قرارونه صادر شوي، (۳) دوسیې مکتوبي مستردې شوي او پاتې نورې تر څېړنې لاندې دي.

# د میدان وردګ ولایت د مرافعه محکمې د ۱۴۴۴ هـ ق کال د قضائي او اداري اجراآتو راپور

د میدان وردګ ولایت د مرافعه محکمې ریاست د شرعي احکامو، محاکمو د اداري اصولو، مشرتابه د فرمانونو او د دارالانشاء د عمومي ریاست د متحد المآلونو مطابق خپلې دندې په غوره توګه ترسره کړې چې د دغه ریاست د ټولو شعبو او محاکمو د قضائي او اداري اجراآتو تفصیل په لاندې ډول دی.

**۱- د حقوقي قضیو په برخه کې:**

د ۱۴۴۴ هـ ق کال په جریان کې (۲۱۸۹) قضیې د مرافعه دیوانونو او ابتدائیه محاکمو ته راجع شوې دي، د هغو له جملې څخه (۵۰۷) قضیې فیصله شوې، د (۶۸۲) قضیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۳۷۷) قضیې مکتوبي مستردې شوي دي او پاتې نورې تر کار لاندې دي.

**۲- د جزائي قضیو په برخه کې:**

د ۱۴۴۴ هـ ق کال په جریان کې (۳۵۰) قضیې د مرافعه دیوانونو او ابتدائیه محاکمو ته راجع شوې چې د هغوی له جملې څخه (۱۵۲) قضیې فیصله شوې دي، د (۱۱۲) قضیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۴۰) قضیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې نورې تر کار لاندې دي.

**۳-د وثایقو د اجرا په برخه کې:**

د مرافعه محکمې د اسنادو د ثبت، وثایقو او مخزن آمریت او ابتدائیه محاکمو (۲۳۷۴) مختلفې وثیقې اجراء کړې دي.

**٤- په اداري برخه کې:**

په ۱۴۴۴هـ ق کال کې د مراجعینو او د دعوي د خاوندانو له لورې د مرافعه محکمې تحریراتو ته د (۵۵۲) عریضې وړاندې شوې چې په لنډ وخت کې ورته رسېدنه شوې ده، د افغانستان اسلامي امارت د محترم مشرتابه فرمانونه، مصوبې، د سترې محکمې د عالي مقام متحدالمآلونه او مکتوبونه په ټاکلي وخت اجرا شوي او ټولو اړوندو شعبو او محاکمو ته استول شوي دي.

د مرافعه محکمې د تحریراتو په وارده اوصادره کتاب کې په شمېر د(۵۱۶۱)مکتبونه وارد او صادر شوي دي.

پنځلس ورځني، احصائیوي، حقوقي، جزائي، د ښځو د میراث حقونو د حاضرۍ میاشتنی راپور او همدارنګه د ډیټابس حقوقي او جزائي راپورونه په ټاکلي وخت د سترې محکمې عالي مقام ته استول شوي دي.

په تېر ۱۴۴۴ هـ ق کال په جریان کې د میدان وردګ ولایت مرافعه محکمې د قضائي او اداري منسوبینو سره، د مرافعې دیوانونو د رئیسانو سره، ښاري ابتدائیه محکمې دیوانونو د رئیسانو سره د عدلي، قضائي ادارو د مسؤلینو د میدان وردګ ولایت له مقام ، استخباراتو ریاست ، عدلیې ریاست، زندان، امنیه قوماندانۍ او اړوندو ادارو سره په میاشت کې د کارونو د سمون او ښې همغږۍ په موخه ګډې ناستې او غونډې ترسره کړې دي.

د قضائیه قوې د محاکمو د امنیتي او اجرائیوي عمومي ریاست لپاره د دعوت او ارشاد څانګړی امریت جوړ شو د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د ربیع الاول میاشتې په ۲۴مه نېټه د قضائیه قوې د امنیتي او اجرائیوي چارو عمومي ریاست د منسوبینو لپاره د دعوت او ارشاد ریاست څانګړی امریت جوړ شو.

د یاد امریت د پرانیستې په موخه غونډه چې د قضائیه قوې د امنیتي او اجرائیوي چارو عمومي ریاست په انګړ کې جوړه شوې وه او د سترې محکمې د دعوت او ارشاد رئیس محترم حافظ مولوي عبدالعزیز (میوندي)، د قضائیه قوې د امنیتي او اجرائیوي چارو عمومي ریاست رئیس محترم الحاج مولوي محمد عوض (سعید) او د یادو ریاستونو کارکوونکو په کې ګډون درلود؛ د قرآنکریم د مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه.

د دعوت او ارشاد ریاست مقرر محترم مفتي عصمت الله (برهان) د یاد امریت د پرانیستې په اړه وویل، د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د حکم په اساس په ټولو دولتي ادارو کې د دعوت او ارشاد څانګې فعاله شوې دي، په دې اساس د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو عمومي ریاست کې د دعوت او ارشاد آمریت په فعالیت پیل وکړ.

نوموړي زیاته کړه، دغه امریت به د یاد ریاست منسوبینو ته د دعوت او تدریس چارې پر مخ وړي، دوی به مجاهدینو ته توصیه کوي چې په خپلو منځونو او دغه راز له ملت سره ښه رویه وکړي.

بلخوا د قضائیه قوې د امنیتي او اجرائیوي چارو عمومي رئیس محترم الحاج مولوي محمد عوض (سعید) د یادې څانګې جوړول ګټور وبلل او وویل، د دعوت او ارشاد دغه امریت به ان شاءالله په دغه ریاست کې د ریاست د منسوبینو د اصلاح او مجاهدینو ته د تدریس برخه کې مهم رول ولري.

نوموړي د سترې محکمې د عالي مقام له دغه اقدام څخه مننه وکړه چې د یاد ریاست لپاره یې د دعوت او ارشاد څانګه جوړه کړه.

د یادونې وړ ده چې د سترې محکمې اړوند د دعوت او ارشاد ریاست د خپل پلان له مخې په اونۍ د دوو ورځو اصلاحي بیانونو سربېره د سترې محکمې د مرکزي ریاستونو ټولو کارکوونکو ته د دیني علومو تدریس هم کوي.

## د بلخ محاکمو په دوو اونیوکې د (٤٣١) دوسیو په حل او فصل سربېره (٣٥٢) وثیقې هم اجراکړې

په دغه راپور کې له ١٤٤٥/٣/١هـ ق نېټې څخه تر١٤٤٥/٣/١٣ هـ ق نېټې د بلخ ولایت اړوند مرافعه محکمې، د زون نظامي محکمې، د ښاري محکمې دیوانونو او ټولو ابتدائیه محاکمو قضائي او حقوقي او آمریت وثایق اجراآت شامل دي.

**په حقوقي (مدني او تجارتي) برخه کې:**

په یاده موده کې د بلخ ولایت محاکـــمو ته (٢٧٩) بېلا بېلې حقوقي(مدني اوتجارتي) دوسیې واردې شوې دي؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې ډلې (٧١) دوسیې فیصله شوې دي، (٢٦) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (١٧٠) دوسیو په اړه قرار قضائي صادر شـــوي او نورې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په یاده موده کې د بلخ ولایت محاکـمو ته (١٤٥) بېلا بېلې جزائي دوسیې واردې شوې دي، په داسې حال کې چې مخکې هـم یو شـــمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (٥٦) دوسیې فیصله شوې دي، (١٦) دوسیې مکتوبي مستردې شوې دي، د (٩٢) دوسیو په تړاو قرار قضائي صادر شوي او پاتې نورې تر کار لاندې دي.

دغه راز په یاده موده کې (٣٥٢) بېلا، بېلې وثیقې هم اجرا شوې دي.

## طی دو هفته محاکم فاریاب علاوه بر حل و فصل (۳۵۵)، به تعداد (۴۲۶) وثیقه نیز اجراکرده است

توحید گزارش اجراآت دو هفته (١٤٤٥/٣/١ هـ ق الی ١٤٤٥/٣/١٥ هـ ق) دواوین مرافعه، وثایق، محکمۀ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی های ولایت فاریاب به شرح ذیل تحریر است:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (٨٧) دوسیه وارد محاکم گردیده است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جملــــــــه (٧) دوسیه مکتوبی مسترد شده، راجع به (٢٦) دوسیه قرار قضـــــــائی صادر شده، (٥٩) دوســــــــیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار میباشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (٢٢٦) دوسیه وارد محاکم گردیده است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جملــــــه ( ١٤ ) دوسیه مکتوبی مسترد شده، در مورد (١٦١) دوسیه قرار قضـــــــائی صادر شده، (٨٨) دوســــــیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار میباشد.

**در بخش وثایق:**

در این مدت به تعداد (٤٢٦) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## رئیس عمومی محکمه مرافعه ولایت پنجشیر از آمریت زندان ان ولایت دیدار نمود

روز چهارشنبه مورخ ١٤٤٥/٢/٢٨هـ ق مولوی عبدالله (سدید) رئیس عمومی محکمه مرافعه ولایت پنجشیر با هیئت همراه اش از زندانیان آمریت زندان ولایت پنجشیر دیدار و بازدید نمود.

در این دیدار نخست مولوی عبدالله (سدید) رئیس عمومی محکمه مرافعه ولایت پنجشیر به اطاق های زندانیان تشریف برده و از هر کدام که تعداد شان به (١٩) تن محبوس می رسید راجع به مشکلات، چالش ها و از چگونگی برخورد مسئولین آمریت زندان باز پرس بعمل آورد، که خوشبختانه همه ایشان پاسخ مثبت ارائیه نمود و از کیفیت پروسه محاکماتی، طرز برخورد قضات حین محاکمه نیز اظهار خرسندی نمودند.

بعد محترم مولوی عبدالله (سدید) رئیس عمومی محکمه مرافعه ولایت پنجشیر پیرامون قباحت اعمال جرمی و نا شایسته که یگانه سبب بهم ریختن نظم جامعه اسلامی بوده در پرتو احکام دین مقدس اسلام و قوانین نافذه امارت اسلامی صحبت نمود و اهداف تامین جزاء را اصلاح مجرم، برگشت وی به عنوان شخص سالم در جامعه تلقی نمودند.

در اخر هم مولوی عبد الله (سدید) رئیس عمومی محکمه مرافعه ولایت پنجشیر در بخش مشکلات زندانیان از ناحیه کمبود اطاق های مناسب را از طریق شریک سازی به مسولین اطمینان داد.

## دکابل په ابتدائیه محکمه کې د مراجعینو لپاره د اسانتیا رامنځته کولو په موخه معلوماتي غرفې او معیاري انتظار خونې جوړې شوې

د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب په هدایت د اداري معاونیت تر چتر لاندې د سترې محکمې مالي او اداري عمومي ریاست د ابتدائیه محکمې د مراجعینو لپاره د اسانتیا او معلوماتو رامنځته کولو په موخه د هر ریاست اړوند یوه غرفه جوړه او نن ګټې اخیستې ته وسپارل شوه.

د دغه غرفو او انتظار خونو د پرانیستې په موخه جوړه شوې غونډه کې د سترې محکمې اداري معاون محترم شیخ عبدالمالک (حقاني)، د سترې محکمې د دارالافتاء عمومي رئیس محترم شیخ عزیزالله (مظهري)، دکابل د مرافعه محکمې د جزا دېوان رئیس محترم مولوي عزیزالله (حیدري)، د سترې محکمې مالي او اداري عمومي رئیس محترم الحاج مولوي کریم الله (زاهد)، د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو رئیس محترم مولوي عبدالرحیم (راشد)، د سترې محکمې مالي رئیس محترم ملا محمود، د سترې محکمې اداري رئیس محترم سید مجیب الله (ځل)، دکابل ولایت د څلورو زونونو رئیس صاحبانو او د ابتدائیه محکمې قضائي او اداري غړو او مراجعینو ګډون درلود.

غونډه د قرآنکریم د مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ ورپسې د سترې محکمې اداري معاون محترم شیخ عبدالمالک (حقاني) وینا وکړه، د څلورو زونونو د رئیس صاحبانو له کارونو یې خوښي څرګنده کړه او دوی ته توصیه وکړه چې له مراجعینو سره نېک سلوک کوئ او قضیو ته یې پر ټاکلي وخت رسېدنه کوئ.

محترم شیخ حقاني صاحب د یادو غرفو او انتظار خونو د جوړېدو په موخه مراجعینو ته د اسانتیاوو رامنځته کول، اختلاط ختمول او د مراجعینو لخوا نوبت مراعاتول وبلل.

د سترې محکمې اداري معاون د زونونو رئیس صاحبانو ته ټینګار وکړ چې په غرفو کې د ناستو مدیرانو د چارو وخت پر وخت څارنه کوئ ترڅو د چا حق ضایع نشي او د ټولو مراجعینو چارې د نوبت په اساس ترسره شي.

وروسته د سترې محکمې د دارالافتاء عمومي رئیس محترم شیخ عزیزالله (مظهري) خبرې وکړې وویل، دا چې مراجعین له باران، واورې، یخې او ګرمې هوا او نورو مشکلاتو او سختیو څخه په امن وي، نو په دې اساس اړوند مسؤولینو د یادو غرفو او انتظار خونو د جوړېدو اقدام وکړ.

د سترې محکمې مالي او اداري عمومي رئیس حاجي مولوي کریم الله (زاهد) وویل، د یادو غرفو او انتظار خونو په جوړېدو تقریبا یو نیم میلیون افغانۍ لګښت راغلی او ټول لګښت یې د سترې محکمې له بودجې ورکړل شوی دی.

د کابل د ابتدائیه محکمې د څلورو زونونو مراجعینو د یادو غرفو او انتظار خونو په جوړېدو خوښي څرګنده کړه او د سترې محکمې له محترم رئیس او قاضي القضات صاحب څخه یې مننه وکړه چې تل یې د مراجعینو لپاره د اسانتیاوو رامنځته کولو په موخه د اړوند محاکمو مسؤولینو ته لازمې سپارښتنې کړې دي.

د یادونې وړ ده چې په یادو غرفو کې به د اړوند زون او ریاست یو کس ته دنده سپارل کېږي چې مراجعینو ته د اړتیا وړ معلومات وړاندې او اړوند زون یا ریاست ته یې رهنمایي وکړي.

## رئیس محکمۀ مرافعۀ بغلان از محاکم ابتدائیۀ ولسوالی های اندراب، ده صلاح و پلحصار آن ولایت بازدید کرد

به سلسله بازدیدها و فعالیت های همیشگی، به تاریخ ١٤٤٥/٢//٢٧ هـ ق محترم الحاج مولوی محمدیوسف (ابوالوفاء) رئیس عمومی محکمۀ مرافعۀ بغلان این بار از محاکم ابتدائیۀ ولسوالی های اندراب، ده صلاح و پلحصار آن ولایت دیدار و نظارت بعمل آورد.

در جریان این بازدید محترم مولوی علی گل (حمیدی) رئیس دیوان مدنی محکمۀ مرافعه و محترم لطف الله (همت) مدیر مالی مرافعۀ بغلان نیز با رئیس محکمۀ مرافعه همراهی می نمودند.

رئیس محکمۀ مرافعه با هیئت همراهش از چگونگی اجراآت قضائی و اداری از قبیل (فیصله جات حقوقی، جزائی، اندراج دوسیه جات، صادره و وارده و حاضری) شان را بررسی و ملاحظه کردند و برای مسؤولین آن محاکم توصیه های ذیل نمود:

ضمانت خط ها باید مطابق رهنمای وثایق که از طرف مقام عالی ستره محکمه مواصلت ورزیده است در وثیقۀ شرعی ترتیب گردد.

دوسیه های مندرج اندراج حقوقی و جزائی باید بالترتیب رسیدگی و فیصله شرعی صورت گیرد.

دوسیه های که مرکب از حق الله و حق العبد باشد، طرفین دعوی آن را بنا بر پاه در میانی مصلحین و خیر اندیش جانب حق العبد اش اصلاح میگردد، قضات محترم باید در قسمت حق الله آن دوسیه ها فیصله خویش را صادر نمایند.

دوسیه های که از جمله غیر مسموعات باشد در رابطه به چنین دوسیه ها مطابق مادۀ (۱۰۴) لایحه محاکم مبنی بر عدم سمع دعوی قرار خویش را صادر نمایند.

همچنان در رفع بعضی از نواقص ها وکاستی های محاکم متذکره که در بخش های (راپوردهی قضایای موجود، فیصله شده، مسترد شده، حاضری، اندراج دوسیه جات و صادره و وارده) موجود بود از طرف رئیس صاحب محکمۀ مرافعه رهنمائی های اصولی و ارزنده به مسؤولین توصیه شد .

## رئیس محکمۀ ابتدائیه شهری تالقان از زندان ولایت تخار دیدن نمود

بمنظور اینکه محبوسین بی سرنوشت نمانده باشند و به قضایای شان رسیدگی شود روز چهارشنبه مورخ ١٤٤٥/٣/١٢ هـ ق هیئت چهار نفری تحت ریاست شیخ عبدالحمید ( متوکل) رئیس محکمه ابتدائیه شهری تالقان به آمریت عمومی زندان ولایت تخار رفت تا از وضعیت محبوسین زندان دیدن نمایند.

در این دیدار بعد از بررسی معلوم شد که در این زندان ولایت تخار به تعداد(٢٧١) نفر محبوسین ذکور و اناث تحت حبس قرار دارند که از جمله انها (٢٩) نفر زیر سن (اطفال) میباشد.

درمجموع همه شان دوسیه داشتند، دوسیه های شان درمحاکم تحت دوران قرار داشت و یا هم بعد ازحکم محکمه درحال سپری نمودن حبس بودند.

در جمع این محبوسین صرف سه نفر که از بی سرنوشتی سخن میگفت عرض شان یادداشت گردید و به محاکم مربوطه شان درمورد حل وفصل قضیه و تعین سرنوشت شان هدایت لازم و اصولی داده شد.

سرپرست مسئوول مدير: مولوي عبدالرحيم (راشد)
اديتور : جوادالله (جاهد)
ډيزاين: حميدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندويه خپرونه
په مياشت کې درې ځله چاپيږي


## هلمند ولايت کې اوو متهمينو ته تعزيري سزا ورکړل شوه

پنجشنبه د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د ربيع الاول مياشتې په ۲۷مه نېټه د هلمند ولايت د ښاري ابتدائيه محکمې په حکم اوو تنو متهمينو ته چې د غلا په جرم نيول شوي وو تعزيري سزا ورکړل شوه.

د يادو کسانو دوسيې د هلمند ولايت اړوند محاکمو ته له راجع کېدو وروسته د ښاري ابتدائيه محکمې د جزا ديوان لخوا په دقت وڅېړل شوي او جزا ديوان د حکم او د جنوب غرب زون د تميز عالي رياست او سترې محکمې د قضائي معاونيت د اجازې په اساس دغه متهمينو ته تعزيري سزا ورکړل شوه.

د يادونې وړ ده چې يادو متهمينو ته د تعزيري سزا تطبيق په موخه جوړه شوې ناسته کې د هلمند ولايت د محاکمو او نورو ولايتي ادارو پر مسؤولينو سربېره عامو هيوادوالو هم ګډون درلود.

## د زابل ولايت د ترنک او جلدک (شهرصفا) ولسوالۍ د ابتدائيه محکمې له لوري د قتل موضوع حل او فصل شوه

څه موده مخکې د زابل ولايت د شهر صفا ولسوالي د جلدک سيمه کې د ۵۸۰ ډوله موټر او موټر سايکل تر منځ ترافيکي پېښه رامنځته شوې وه چې له امله يې د شيراحمد په نوم يو کس ژوند له لاسه ورکړی و او يو کس زخمي و.

د يادو کسانو دوسيه د شهر صفا ولسوالۍ ابتدائيه محکمې ته تر راجع کېدو وروسته په غور او دقت وڅېړل شوه؛ له بشپړې څېړنې وروسته د دې محکمې د مسؤولينو په هڅو د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د ربيع الاول مياشتې په ۱۱مه نېټه ياده دوسيه داسې حل او فصل شوه چې د قاتل بالخطا کورنۍ د مقتول وارثينو ته ديت ورکړ.

د يادونې وړده چې دا پنځمه د قتل موضوع ده چې د شهر صفا ولسوالۍ د ابتدائيه محکمې له لوري حل او فصل کيږي.

## د خوست ولايت د مرافعه محکمې رئيس د ياد ولايت له عمومي محبس څخه ليدنه وکړه

د خوست ولايت د مرافعه محکمې د رئيس محترم مولوي امين الله (منيب) په مشرۍ يوه پلاوي د ياد ولايت له عمومي محبس څخه ليدنه وکړه.

ياد پلاوی د خوست ولايت د مرافعه محکمې د تحريراتو له آمر امين الله (حنفي)، د ديوان جزا له رئيس، عضو محرر، د امنيت عامه ديوان سرپرست رئيس او د ښاري ابتدائيه محکمې د جزا او امنيت عامه ديوانونو رئيسانو څخه تشکيل شوی وو.

په ياده ليدنه کې د بنديانو ستونزې او شکايتونه واورېدل شول او د يادو ستونزو د حل ډاډ ورکړل شو.

د يادې ليدنې په پای کې د خوست ولايت د مرافعې محکمې د رئيس له لورې د ياد عمومي محبس مدير ته د هر راز همکارۍ او همغږۍ ډاډ ورکړل شو.

## د جوزجان د مرافعه محکمې رئيس د رسمي عريضې ليکلو په موخه د هغه ولايت عريضه ليکونکو ته سيمينار جوړ کړ

د سه شنبې په ورځ (۱۴۴۵/۳/۴هـ ق) نېټه د جوزجان ولايت د مرافعه محکمې د عمومي رئيس الحاج مفتي عبدالغني (سعيد) په مشرۍ د ياد ولايت عريضه ليکونکو ته ښوونيز سيمينار جوړ شو.

دغه سيمينار چې ګڼ شمېر عريضه ليکونکو په کې ګډون کړی و د قرآنکريم د څو مبارکو آياتونو په تلاوت پيل شو؛ ورپسې د جوزجان ولايت د مرافعه محکمې عمومي رئيس عريضه ليکونکو ته د سترې محکمې د مراجعينو لپاره د رسمي عريضو د ليکلو طرز په اړه عمومي معلومات وړاندې کړل او هغوی ته يې د عريضې ليکلو اصول او مقررات داسې تشريح کړل.

په پيل کې بايد د عريضې د غوښتنې نېټه په عريضه کې ذکر کړئ.

د عريضې د اړوند مرجع نوم بايد څرګند او ذکر شي.

د عارض او معروض عليه مکمل شهرت يعنې نوم، د پلار نوم، د نيکه نوم، قوم، کسب، اوسنی او مخکنی استوګنځی، تابعيت او د دواړو د پېژندپاڼې شمېرې ذکر شي .

په عريضه کې بايد د عارض او معروض عليه اهليت ذکر شي.

که چېرې عارض وکيل يا وصي وي د وکالت خط يا وصايت خط نېټه او همدارنګه د هغه محکمې نوم چې وثيقه يې ترتيب کړې بايد په عريضه کې وليکل شي.

د مدعی بها پېژندنه که منقول وي جنس، ډول، ځانګړتياوې او ارزښت يې بايد عريضه کې وليکل شي او که غير منقول وي، موقعيت او د مدعی بها حدود بايد وليکل شي.

که موضوع جزائي وي، د پېښې ځای او نېټه بايد ذکر شي .

په غوښتنليک کې بايد لاسليک يا د ګوتې نښانې شامل شي .

په عريضه کې بايد ناسم الفاظ ونه ليکل شي.


دعوی بايد ملزمه وي.


عريضه بايد دومره اوږده نه وي چې قابل د فهم نه وي او دومره لنډه هم نه وي چې ورڅخه مطلب وانه خيستل شي، عريضه بايد واضح او روښانه وي.

دا هم بايد روښانه وي چې معروض او معروض عليه نظامي دي که ملکي؟

عارض بايد غوښتنليک کې د اړوند مرجع څخه په واضع او روښانه ډول خپله غوښتنه وکړي.

د سيمينار ګډونوالو د عريضه ليکنې په اړه دغه جوړ شوی سيمينار ګټور وباله او د محاکمو له مسؤولينو يې مننه وکړه چې دوی ته يې د صحيح رسمي عريضې ليکو په موخه ياد سيمينار ترتيب کړ.





ميزان

د ليکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست

publications.sc١٤٤٣@gmail.com
www.supremecourt.gov.af



د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳